مسیر
ورځپانه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۹ د وري ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۳مه | ۵۹۲یمه گڼه
2 017550 139621

## پوهنتون

۴ مخ

### رویان د لوړو زده کړو موسسه

دغه موسسه د تاجکستان له ملي پوهنتون سره د دوو اړخیزو همکاریو یوه هوکړه لري، چې له مخې یې د دې موسسې فارغ محصلین کولای شي د تاجکستان په ملي پوهنتون کې په پنځوس سلنه تخفیف د ماسترۍ پروگرام پیل کړي.




# د دوحې غونډه د افغانستان لپاره تاریخي ورځ؛


## اکثریت هېوادونه او نړیوال بنسټونه د مذاکراتو ملاتړي او د اوربند غوښتونکي دي





۳

### کرنې ریاست: روان کال د میدان وردگو د مېوو حاصلات له ۱۳۰ زره متریک ټنو اوښتي دي



د میدان وردگو د کرنې او مالدارۍ ریاست وايي چې د تېر په پرتله د دغه ولایت د مېوو حاصلات د کمیت او کیفیت له پلوه ښه شوي دي.

د یاد ولایت د کرنې او مالدارۍ رییس ولید احمد تسل وايي، د اټکل له مخې، سږکال به د دغه ولایت د مېوو له بڼونو څه باندې ۱۳۰ زره متریک ټنه مېنې راټولې او بازار ته به وړاندې شي. د هغه په خبره، تېرکال دغه شمېره ۱۲۲ زره او ۹۷۶ متریک ټنه وه، چې دا په روان کال کې په میدان وردگو کې د مېوو د حاصلاتو نږدې لس سلنه زیاتوالی ښيي.

په وروستیو کلونو کې د کرنې وزارت او د میدان وردگو د خلکو په هلو ځلو هرکال په دغه ولایت کې پر سلگونه جریبه ځمکه کې د مېوو د نوي ورایټیو بڼونه، چې تر نورو لس چنده ډېر حاصل ورکوي، جوړ شوي دي.

### د خبرو د دوام او بریا لپاره څه پکار دي؟

۲ مخ

### د چین نوی انکشافي جوړښت؛ افغانستان ته د گټو فرصت او نړۍ ته باور ورکوي

۲ مخ

### پاکستان به د شمالي کوریا او ایران په څېر تور نوملړ ته لاړ شي؟

۳ مخ

### حامد کرزی: د سولې مذاکراتي ټیمونه دې د افغانستان اوږدمهالو او دایمي گټو ته لومړیتوب ورکړي

پخوانی ولسمشر حامد کرزی وايي، تمه لري چې پیل شوي مذاکرات په افغانستان کې د بې رحمانه خونړیو جگړو پېټی د افغانانو له اوږدو ټیټ کړي. نوموړي د مذاکراتو د پیل په مناسبت په خپاره کړي پیغام کې ویلي، په مذاکراتو کې د دواړو لورو استازو او پلاوي ته په کار ده چې د لنډمهالو او شخصي یا حزبي گټو پر ځای د افغانستان اوږدمهالو او دایمي گټو ته لومړیتوب ورکړي، دلته د جگړو د پای ته رسېدو لپار کار وکړي، له رامنځ ته شوي فرصت دې پوره گټه پورته کړي او په پوره حوصله مندۍ دې د پیاوړي افغانستان لپاره بحثونه وکړي.

پخواني ولسمشر دغه راز ویلي چې که افغانان په خپلو کې یووالي ته سره ورسېږي، نو دلته به پردۍ مداخلې او جگړې ختمې شي او افغانستان به د یوه پیاوړي او خپلواک هېواد په توگه راڅرگند شي چې د سیمې او نړۍ لپاره به گټور وي.

په ورته وخت کې د چین د بهرنیو چارو وزیر وانگ یي وايي، دوی د افغانانو په مشرۍ د سولې پروسې بشپړ ملاتړ ته ژمن دي. نوموړي په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو د پیل مراسمو ته خبرو کې ویلي، هېواد یې غواړي پیل شوي بین الافغاني خبرې په افغانستان کې د روانې اوږدې خونړۍ جگړې د پای او د ټولو افغانانو د نېکمرغۍ لامل شي. وانگ یې له افغانستان د بهرنیو ځواکونو وتلو ته په اشارې زیاته کړې، دا بهیر باید منظم او د افغانستان شرایطو ته په کتو ترسره شي.

### ډیموکراسي او جمهوریت د امریکا لپاره غوره سیستم دی، پر افغانانو یې نور نه تحمیلوو




۲ مخ

### ملابرادر: نظامی می خواهیم که تمام اقشار مردمی در آن نظام خود را ببینند




ملابرادر، برتطبیق توافق نامۀ طالبان با امریکا تاکید کرد وگفت که برای موفقیت گفتگوهای صلح تلاش می کنند ویک نظام می خواهند که تمام اقشارمردمی درآن نظام خود را ببینند.

قرار بود گفتگوهای صلح میان افغانان، حدود ده روز بعد از امضای موافقت نامه میان طالبان و ایالات متحده امریکا که در دهم حوت سال ۱۳۹۸ در قطر امضا شد، آغاز شود؛ اما مخالفت ها در مورد رهایی ۵۰۰۰ زندانی طالبان و یک هزار زندانی حکومت، حدود شش ماه به درازا کشید، و دیروز پس از رهایی این زندانیان با اشتراک هیأت های دو طرف (دولت افغانستان و طالبان) و ده ها تن از نماینده گان کشورها و سازمان های بین المللی در قطر آغاز شد.

معاون سیاسی طالبان و مسئول دفترسیاسی این گروه درقطر،سومین سخنران این نشست بود که پس از وزیرخارجۀ قطر و داکترعبدالله رئیس شورای عالی مصاحبه دراین مراسم صحبت کرد . ملابرادر گفت، که طالبان به توافق نامه با امریکا متعهد می باشند، بگونۀ کامل آنرا عملی کرده اند و از جانب مقابل هم توقع دارند که چنین عمل نماید تا مذاکرات صلح بین الافغانی بدون موانع پیش برود . به گفتۀ موصوف، طالبان از امریکا نیز با جدیت چنین تقاضا را دارد .

ملابرادر اظهارامید واری کرد که هیأت مذاکره کننده بین الافغانی بحث های شانرا با حوصله کامل ، در روشنایی ارزش های دین مقدس اسلام وبا توجه به منافع والای کشوربه پیش ببرند .ملابرادر به جامعه جهانی نیز اطمینان داد که برای موفقیت مذاکرات بین الافغانی تلاش می کنند .

Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
Aksos Book Store
Add a Book to Your Life



دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
aksosbookstore@gmail.com
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
Aksos Book Store

## دریــځ

### د خبرو د دوام او بریا لپاره څه پکار دي؟

له اوږده ځنډ وروسته پرون په دوحه کې بین الافغاني خبرې پیل شوې. ټاکل شوې د خبرو دا لومړی پړاو به څو ورځې دوام وکړي. دواړه اړخونه وایي چې سولې ته اراده لري او غواړي د افغانستان ستونزه د خبرو له لارې حل کړي. پر دواړو اړخونو نړیوال فشارونه هم شته چې انعطاف وښیي او د افغانستان جګړه د سولې له لارې ختمه کړي. پرون په دغو مراسمو کې د امریکا او ډېرو هېوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو او استازو په ټینګار سره له دواړو اړخونو وغوښتل چې له شته چانس څخه استفاده وکړي او د سولې خبرې بریالۍ کړي.

دا روښانه ده چې خبرې به سختې او پېچلې وي او ډېر وخت به واخلي، خو مهمه دا ده چې خبرې دوام وکړي او پرمختګونه پکې وشي، که څه هم دا پرمختګونه واړه وي. د دواړو اړخونو ترمنځ د اختلاف لوی ټکي شته، واټن زیات دی او دواړه اړخونه له بهرني فشار پرته کم انعطاف هم کوي، نو ځکه به دا سختې خبرې وي. پکار ده چې دواړه اړخونه پیل له ساده او هغو ټکو وکړي چې اختلاف پکې کم دی. د دواړو اړخونو تر منځ داسې ټکي شته چې په اسانۍ پرې توافق کېدلی شي. د دې تر څنګ د غوښتنو مطرح کول او منل باید یو اړخیز نه وي، پکار ده چې دواړه لوري ومني چې که یو څه تر لاسه کوي، نو یو څه به له لاسه ورکوي او همدا د خبرو او جوجاړي ځانګړنه ده.

د افغانستان خلک تمه لري چې تر هر څه وړاندې پر اوربند توافق وشي او حکومت هم له وړاندې دا غوښتنه کړې ده. طالبان هم منې چې پر اوربند به خبرې کوي، خو دا چې ژر به یې مني او که نه، په دې اړه څه نه وایي. دا ښکاره ده چې طالبان به په اسانۍ اوربند ونه مني، ځکه چې جګړه طالبانو ته د فشار او نورو چارو لپاره مهمه ده، خو که طالبان اوربند مني، نو له حکومت به هم غوښتنې ولري. طالبان غواړي زرګونه نور بندیان یې خوشې شي. اوس پکار ده چې طالبان اوربند ومني او حکومت یې په بدل کې د یو پلان پر اساس د طالبانو بندیان خوشې کړي. دا چاره به له یوه اړخه د افغانستان د خلکو ستره هیله چې د جګړې بندېدل دي، پوره کړي او له بل اړخه به زرګونه بندیان له خپلو کورنیو سره یو ځای شي. د دې تر څنګ د جګړې درول او د بندیانو خوشې کول به حسن نیت، پر یو بل باور او سوله ییزه فضا لا پیاوړې کړي او په دې سره به په نورو برخو کې هم پرمختګ ته لاره پرانیزي.

د خبرو پیل د سولې په لاره کې د بریا لپاره یو ستر ګام و، خو د اساسي بریا لپاره پکار ده چې دا خبرې همداسې روانې وساتل شي، پرمختګونه پکې وشي، دواړه لوري پکې انعطاف وښیي، له خپله اړخه قرباني ورکړي او د سولې لپاره له هر ډول توندو څرګندونو او ناسمو کړنو څخه ځان وساتي. له دې سره هممهاله پر دواړو اړخونو یو ولسي فشار هم پکار دی چې روانې خبرې بریالۍ کړي او دا جګړه نوره ختمه شي.

# د چین نوی انکشافي جوړښت؛

## افغانستان ته د ګټو فرصت او نړۍ ته باور ورکوي



لیکنه: وانګ یو
په افغانستان کې د چین لوی سفیر

په دې وروستیو میاشتو کې د چین د دولت رییس شي جین پینګ په خپلو خبرو کې څو ځلې پر دې ټینګار کړی، چې چین باید د کورني اقتصادي دوران پر اساس د کورنیو او بهرنیو اقتصادي دورانونو د متقابلې هڅونې نوی انکشافي جوړښت رامنځ ته کړي. یانې د هېواد په د ننه به اړتیاوې زیاتې شي، مصرف به ډېر او علمي اختراعات به وهڅول شي او د تولیدي صنایعو لړۍ به تامین شي. د بهرنیو هېوادونو لپاره به تجارتي چاپېریال نور هم ښه او د مال او پوهنې مالکیت ساتنه به نوره هم پیاوړې شي او دایمي ثابت او انکشافي تمایل به وساتل شي.

رییس شي جین پینګ د کورني او بهرني چاپیریال ژور بدلونونه پېژندلي او د چین د ځانګړتیاوو پر وړاندې د نړۍ سیاسي او اقتصادي حالاتو او نړیوال پرمختګ ته په کتو یې د چین د منځني او اوږدمهاله پرمختګ لپاره اغېزمنې غوښتنې وړاندې کړې دي، چې د چین د اقتصاد او ټولنې د پرمختګ لپاره یې لار هواره کړې او د نړیوال اقتصادي رکود مسئلې ته یې هم غبرګون ښودلی دی. د چین بېلابېلو ټولنو د رییس شي جین پینګ په مشرۍ په کورني بازار کې د ستونزو د حل و فصل او بهر ته د ورخلاصون سویې د لوړولو لپاره خپل ګامونه چټک کړي او د نړۍ د دویمې لویې اقتصادي ډلې په توګه به چین د نړۍ اقتصاد ته ټینګ باور ورکړي.

له نوي انکشافي جوړښت څخه څرګندېږي، چې د چین د اقتصادي پرمختګ ستراتیژیکي ټکی له صادراتو څخه کورنیو اړتیاوو ته د بدلېدو په حال کې دی. خو ځینې کسان داسې وایي چې ګواکې چین غواړي خپله دروازه بنده کړي، مګر حقیقت برعکس دی. رییس شي جین پینګ پر دې ټینګار کړی، چې کورنی لوی دوران د دروازې د تړلو په مانا نه دی، بلکې د کورنیو اړتیاوو پر اساس به کورني او بهرني بازارونه سره پیوست کړي او د چین په کور د ننه او بهر کې به له دوو بازارونو او سرچینو څخه استفاده وشي، څو دایمي پیاوړی پرمختګ تر لاسه شي. یوه خوا د کورنیو او بهرنیو اقتصادي دورانونو د پرمختګ عمده ټکي سره ورته دي، یانې د پوهنې مالکیت حق به وساتل شي، تجارتي چاپیریال به نور هم ښه او د پانګونې محدودیت به کم شي او بشپړ صنعتي سیستم او بنسټیز تاسیسات به رامنځ ته شي. بله خوا، کورني او بهرني اقتصادي دورانونه یو له بل سره مرسته کولی شي او د کورني اقتصادي دوران بنسټیز حیثیت به نور هم پیاوړی شي. یوازې د دغو دوو اقتصادي دورانونو د ښه پیوستون پر اساس تولیدي عناصر په ټوله نړۍ کې ځای پر ځای کېدای شي، ښه تولیدات او خدمات واردیدای او د چین تولیدي او مصرفي اړتیاوې پوره کېدای شي. دغه راز د چین کورنی اقتصادي دوران به نور هم ښه او پیاوړی شي. نړیوال اقتصادي تګ راتګ او پیوستون د چین او نړۍ د اقتصادي پرمختګ ضرورت دی.

چین هممهاله کورني او بهرني اقتصادي دورانونه پرمخ بیایي، څو خپل کورنی قوت پیاوړی کړي. د کوویډ-۱۹ وبا د خپرېدو په حال کې نړیوال تجارت تر ډېرې اندازې پورې کمزوری شوی دی. چین به په پرله پسې توګه کلیدي تخنیکونه او برانډونه چې د پوهنې مالکیت حق یې لري، جوړ کړي، خپل اختراعي توان به لوړ کړي، د اقتصادي پرمختګ خپلواکي به ټینګه او د نړۍ په تولیدي کړۍ کې به خپل حیثیت او امنیت تامین کړي او د خپل باکیفیته پرمختګ لپاره به ټینګ بنسټ کېږدي.

چین به د باکیفیته پرمختګ د قوت د ښې استفادې لپاره هممهاله په کورني بازار کې د تولید، توزیع، انتقال او مصرف په ګډون بېلابېلې برخې سره یو ځای وتړي او خپلې کورنۍ اړتیاوې به پوره کړي او په دې برخه کې ستر بازاري امتیاز لري. چین یو میلیارد او ۴۰۰ میلیونه نفوس، ۹۰۰ میلیونه کارګران، ۴۰۰ میلیونه منځنی عایدات لرونکي وګړي او ۱۰۰ میلیونه بازاري یونټونه لري چې ستر بازار، لوی پټ قوت او پراخ انکشافي توان او ځای لري. د نړیوال پولي صندوق د اټکل له مخې، په روان ۲۰۲۰ کال کې به د کوویډ-۱۹ وبا له امله نړیوال اقتصادي پرمختګ ۳ سلنه کموالی ومومي، مګر چین د ستر اقتصادي پټ قوت، قوي ټینګښت، پراخ انکشافي ځای او مختلفو تګلارو په مټ په لومړي وخت کې د وبا له سیوري څخه وتلی، مختلف تولیدي کاروبارونه یې دوباره عادي کړي او په ډېرو برخو کې واقعي لاس ته راوړنې لري. د روان کال په تېرو ۴ میاشتو کې د چین د لویو صنعتي ارګانونو د ارزښت زیاتوالی ډېر زیات شوی او په تېرې جولای میاشت کې د یاد ارزښت زیاتوالی ۴،۸ سلنې ته رسیدلی دی. دغه راز په همدې میاشت کې د توکیو پرچون ۰،۲ سلنه زیات شوی او په روان کال کې یې په لومړي ځل زیاتوالی موندلی دی.

کله چې چین د کوویډ-۱۹ وبا په ډېره ستونزمنه موده کې و، له ډېرو خطرونو، بې دلیله نیوکو او هم د اقتصادي بندیز له ګواښونو سره مخ و، خو بیا هم ډېر بهرني پانګوال له چین څخه ونه وتل، بلکې د BASF،BMW او Volkswagen په ګډون ډېرو بهرنیو شرکتونو په چین کې خپلې پانګونې زیاتې کړې، له دې څخه څرګندېږي چې دوی د چین پر بازار، ځای او امنیت باور لري.

چین به کورنی اقتصادي دوران لوړ کړي او په عین وخت کې به د ورخلاصون سویه ژوره کړي او په جامع توګه به نړیوال اقتصادي دوران خلاص کړي. چین د اصلاحاتو او ورخلاصون تګلارې د پلې کولو له څه د پاسه ۴۰ کلونو راهیسې وخت ته په کتو، ورخلاصون خپله اساسي تګلاره ټاکلې، له نړۍ سره یې پیوستون چټک کړی او د انکشاف د سرو زرو موده یې ګټلې ده. اوس د نړیوال اقتصاد پرمختګ ورو شوی، خو د چین د نوي انکشافي جوړښت ابادي باید د اصلاحاتو او ورخلاصون رکود مات کړي. چین باید د خپل لا پرانیستي ورخلاصون په مټ په نویو حالاتو او په نړیوالو همکاریو او سیالیو کې خپل پټ قوت او امتیازونه وهڅوي.

اما په ننني نړۍ کې یو اړخیزم او پروټېکشنیزم مخ پر پورته کیدو دی، مګر د اقتصاد نړیوال کېدل تاریخي تمایل دی، چې بېلابېل هېوادونه به د ګډو همکاریو په مټ د ګډو ګټو لپاره اوږدمهاله کارونه وکړي. چین به په ټینګه سره د اقتصاد نړیوال کیدل پر مخ بوځي، نړیوالې علمي همکارۍ به پیاوړې کړي، نړیوال اقتصادي ډګر به جوړ او د یو کمربند او یوې لارې باکیفیته ابادي به وهڅوي او له نړۍ سره به ستر بازاري فرصت شریک کړي. چین به له بازار، قوانینو او نړیوال معیار سره سم خپل تجارتي چاپیریال نور هم سم کړي. په اوسنیو حالاتو کې په چین کې د بهرنیو پانګوالو قانون پلې شوی، د های نان د ازاد تجارت بندر د ابادۍ عمومي پلان طرحه شوی، د بهرنیو پانګونو منفي لیست کم شوی او د وارداتو دربیم نندارتون وخت ټاکل شوی دی. چین د خپل توان د پیاوړي کولو په عین وخت کې د دروازې د پرانیستلو ګامونه هم چټک کړي، چې د نورو هېوادونو لپاره به لازیات بازاري فرصتونه برابر کړي.

اوسمهال او هم په نږدې راتلونکي کې د چین پرمختګ له ستراتیژیکي فرصت سره مخامخ دی. د نړۍ پر مخ به د چین ورخلاصون دروازه بنده نه شي، بلکې نوره به هم خلاصه شي. چین به له هر هغه هېواد، سیمې او تصدۍ سره چې غواړي له چین سره همکاري وکړي، فعاله همکاري وکړي. افغانستان د چین تاریخي دوست او ګاونډی هېواد دی. چین د نورو هېوادونو په پرتله هیله لري چې په دې هېواد کې سوله، ثبات او بیارغونه رامنځ ته شي او بین الافغاني مذاکرات ښې نتیجې تر لاسه کړي. سږ کال د چین او افغانستان د سیاسي اړیکو د ټینګښت ۶۵مه کالیزه ده او چین به له افغانستان سره خپلې دوستۍ ته دوام ورکړي، د یو کمربند او یوې لارې په چوکاټ کې به همکارۍ زیاتې کړي او د چین، افغانستان او پاکستان د بهرنیو چارو وزیرانو ډیالوګ په ګډون د سیمه ییزو همکاریو میکانیزم له لارې به د افغانستان د اقتصادي ګټو د ټینګښت لپاره هڅې وکړي او افغانستان به خپل ځانګړی جغرافیایي امتیاز ولوبوي. چین به سیمه ییز پیوستون وهڅوي او د چین او پاکستان اقتصادي دهلیز به افغانستان ته وغځوي، دا دهلیز به له منځنۍ اسیا سره وتړي او د بنسټیزو، ملکي او طبي تاسیساتو، تجارتي چاپیریال او ملکي نیکمرغۍ په برخو کې به له افغانستان سره مرستې وکړي، د بېلګې په ډول، چین به په افغانستان کې لمري برېښنا سټېشنونه، ارزان کورونه، پوهنتونونه او روغتونونه جوړ کړي. چین به له افغانستان څخه واردات زیات کړي او د تولیدي صنعت د ښه والي لپاره به له افغانستان سره مرستې وکړي. چین به په ټینګه سره تر نوي انکشافي جوړښت لاندې له افغانستان سره اقتصادي ګټې شریکې کړي او په ګډه به د دواړو هېوادونو تر منځ د ګډ برخلیک ټولنه جوړه کړي.

## پامپیو: ډیموکراسي او جمهوریت د امریکا لپاره غوره سیستم دی، پر افغانانو یې نور نه تحمیلوو

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو یو ځل بیا ویلي چې هېواد یې په افغانستان کې د تلپاتې سولې غوښتونکی دی او له سولې پروسې بشپړ ملاتړ کوي. نوموړي دا څرګندونې په قطر کې د بین الافغاني مذاکراتو په څنډه کې د ملي مصالحې عالي شورا له رییس عبدالله عبدالله سره په لیدنه کې کړې دي او زیاته کړې یې ده چې په دوحه کې د افغانانو ترمنځ لومړنۍ ناسته تاریخي وه او دوی هیله لري چې دا خبرې په افغانستان کې د تلپاتې سولې سبب وګرځي.

نوموړي دغه راز ویلي چې ډیموکراسي او جمهوریت په امریکا کې تر ټولو غوره سیستم او نظام دی، خو موږ دا سیستم او خپله غوښتنه نور په چا نه تحمیلوو او افغانان خپل اختیار لري چې څه ډول سیستم د ځان لپاره غوره کوي.



په ورته وخت کې د سولې په برخه کې یو شمېر فعال بنسټونه وایي، افغانان دې د سولې له شته فرصته څخه په ګټې اخیستنې سره دا مذاکرات په رښتیني ډول پر مخ یوسي.

د افغانستان د سولې انستېټیوټ وایي، وروسته له لسیزو جګړو د بین‌الافغاني خبرو پیل د افغانانو لپاره ګټور فرصت دی چې له لاسه ورکول به‌یې کلونه جبران ولري.

د دغه انستېټیوټ مشر یاسر احمدزي ازادي راډیو ته ویلي، که څه هم چې د بین‌الافغاني خبرو د بریالیتوب لپاره لا هم تضمین نشته، خو په دې برخه کې د سیمې او نړۍ د یو شمېر هېوادونو اجماع او د افغانانو د خپلمنځي اختلافونو له منځه وړل دا بهیر بریالی کولای شي.

احمدزي زیاته کړې: «دا په ټوله کې یو طلایي چانس دی، هم د طالبانو او هم افغان حکومت لپاره چې باید له لاسه یې ورنه‌کړي، ځکه که دغه چانس له لاسه ولاړ، بیا به امریکا او نړیواله ټولنه په دومره لېوالتیا دا پروسه بیا پیل نه‌کړي.»

دا په داسې حال کې ده چې د طالبانو او امریکا ترمنځ له یو نیم کال زیات وخت خبرو وروسته اووه میاشتې مخکې د فبرورۍ په ۲۹مه په دوحه کې د امریکا او طالبانو ترمنځ د افغان سولې هوکړه لاسلیک شوه.

د دې هوکړې یوه مهم برخه د افغان حکومت له‌خوا د طالبانو د ۵۰۰ بندیانو او د طالبانو له‌خوا د حکومت د زر بندیانو د خوشې کولو او تبادلې موضوع چې د هوکړې پر بنسټ تر هغې وروسته به دواړه خواوې بین‌الافغاني خبرو ته کېناستل. اوس دا بهیر بشپړ شوی او ټاکل شوې چې د دوشنبې په ورځ دا خبرې پیل شي.

مسیر
یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د سپټمبر ۱۳مه | ۵۹۲یمه ګڼه


# پاکستان به د شمالي کوریا او ایران په څېر تور نوملړ ته لاړ شي؟

بي بي سي - پښتو

پاکستان په وروستیو اونیو کې د ایف اې ټي ایف مالي ډلې له خړ نوملړ د وتلو لپاره خپله دفاع تیاروي. دا نړیواله ډله د پیسو سپینولو او ترهګرۍ مالي تمویل په ضد فعالیت کوي.

د ۲۰۱۸ کال جون کې دې ډلې پاکستان خپل خړ نوملړ ته واچاوه او د ۲۰۱۹ کال تر اکتوبر وروسته یې څلور میاشتې دغه هېواد ته چانس ور کړ، چې د پیسو سپینولو او ترهګرۍ مالي ملاتړ خوندیتوب مقابل کې د قوانینو تصویب او څارونبیې.

دې ډلې د ۲۰۲۰ کال په فبرورۍ کې له ۲۷ څخه په ۱۴ برخو کې د مهم سمون له امله د پاکستان له ستایلو سره وویل، چې ځینو برخو کې د پرمختګ له امله به لا هم خړ نوملړ کې پاتې وي.

د پاتې ۱۳ برخو په هکله د پاکستان ګامونه د ایف اې ټي ایف چارواکو په غونډه کې د سپټمبر له ۱۴ تر ۲۱ ارزول کېږي.

بیا د دې ډلې د غړو لخوا د اکتوبر میاشتې په غونډه کې د پاکستان په هکله پرېکړه کېږي، چې خړ نوملړ کې پاتې شي، سپین ته ووځي او که د ایران او شمالي کوریا په څېر تور نوملړ ته واچول شي.

**قانون جوړول**

د پاکستان حکومت وایي، د سپټمبر غونډې ته د پیسو سپینولو او ترهګرۍ مالي ملاتړ خوندیتوب سره د مقابلې لپاره د اوسنیو قوانینو د سمون اته پلانونه یا طرحې وړې او نوي قوانین به هم تصویب کړي.

دا چې په پارلمان کې اکثریت نه لري، نو پرېکړه یې وکړه چې د واکمن او مخالفو ګوندونو د ۲۴ قانون جوړوونکو ګډ کمېسون جوړ کړي، چې پر دې طرحو یوې هوکړې ته ورسېږي.

پارلمان کې هم له اتو طرحو پر شپږو هوکړه شوې، خو ویل کېږي چې دا بې سارې هوکړه د پوځ لخوا د وکیلانو په هڅولو سره شوې ده.

**نیول او غندل**

ایف اې ټي ایف په ښکاره له پاکستان غوښتي چې بې قانونه ډلې او دوسیه لرونکي کسان په محکمه کې محکوم او شتمنۍ یې کنګل شي.

حکومت هم تېره میاشت او د ایف اې ټي ایف له غونډې مخکې د ځینو مهمو دوسیو حکمونه اعلان کړل. اګست میاشت کې پاکستان د داعش، القاعده او پاکستان- طالبانو غورځنګ په ګډون، د مختلفو توندلارو ډلو پر ۸۸ کسانو بندیزولګاوه.

د ایف اې ټي ایف د فبرورۍ میاشتې له جلسې مخکې پاکستان د لښکر طیبه ډلې بنسټګر حافظ سعید په محکمه کې محکوم کړ او تر اګست وروستیو پورې دغه بهیر روان و او د هغه درې نږدې ملګري یې هم د ترهګرۍ مالي ملاتړ په تور محکوم کړل. خو پاکستان په ځلونو د مصلحت له مخې د حافظ سعید په ګډون، دا ډول کسان نیولي او بیا یې خوشې کړي دي.

اوس به کتل کېږي چې ایف اې ټي ایف د پاکستان دا هڅې څومره رښتینې بولي.

**سیاست**

پاکستان یوازې د ایف اې ټي ایف له غوښتنو سره په همکارۍ بسنه نه ده کړې؛ بلکې د خپلو موخو د پرمختګ لپاره یې په ډیپلوماټیکو اړیکو پورې هم هیله تړلې ده.

د ترکیې، مالیزیا او چین ملاتړ په تېرو پړاوونو کې د دې سبب شو چې دا هېواد تور نوملړ ته لاړ نه شي. اوس چین پر پاکستان فشار اچوي چې له توندلارو ډلو سره سخت چلن وکړي او د ایف اې ټي ایف غوښتنې ومني.

د هندي رسنیو د رپوټ له مخې، د پاکستان د بهرنیو چارو وزیر شاه محمود قریشي چین ته په وروستي سفر کې هڅه کوله چې د ایف اې ټي ایف د اکتوبر میاشتې غونډه کې د بېجینګ ملاتړ خپل کړي.

پاکستان دا هیله هم لري چې د افغان سولې بهیر کې د اسانچارې په رول لوبولو سره د امریکا پر نظر مثبت اغېز واچوي.

ویل کېږي چې په ۲۰۱۸ کال کې د پاکستان نوم خړ نوملړ ته په دې واچول شو، چې امریکا سعودي راضي کړ چې د پاکستان په ګټه رایه ور نه کړي.

پاکستان له هغه وروسته د سولې خبرو کې د طالبانو د ګډون لپاره پر دې ډله ډېر فشار اچولی او دا داسې خبرې دي چې د امریکا ولسمشر یې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د ایستلو لپاره ډېرې مهمې بولي.

پاکستان په اګست میاشت کې پر افغان طالبانو د ملګرو ملتونو د امنیت شورا بندیزونه هم ولګول، چې له ایف اې ټي ایف سره هیڅ تړاو نه لري.

تېره میاشت د طالبانو د قطر دفتر ځینې مشران هم اسلام اباد ته وبلل شول، چې د افغانانو خپلمنځي خبرو پیلولو لپاره فشار پرې واچول شي.

**ننګونې**

د پاکستان په لار کې مختلف خنډونه هم شته، په تېره د هند دا شکایتونه چې اسلام اباد په دغه هېواد کې د وسله‌والو ډلو ملاتړ کوي.

د اګست میاشتې په وروستیو کې د هند ملي څېړنو اداري خپل رپوټ کې د ۱۹ مختلفو کسانو یادونه وکړه، چې پکې د پاکستان د جیش المحمد ډلې قومندان مسعود اظهر هم دی.

ویل کېږي چې نوموړی د هندي کشمیر پلوامه کې د ۲۰۱۹ کال په برید کې لاس لري چې له امله یې تر ۴۰ هندي پوځیان ووژل شول.

**رسنۍ څه وايي؟**

پاکستانۍ رسنۍ هم د ایف اې ټي ایف پرېکړې او د دې ډلې غوښتنو پوره کولو لپاره د پاکستان هڅې له نږدې څاري. لیبرالې انګریزي ورځپاڼې پاکستان ټو ډې د اګست پر لومړۍ نېټه یوه مقاله کې لیکلي: «که پاکستان ایف اې ټي ایف ته د معقولو څرګندونو وړاندې کولو سره له تور نوملړ ځان لرې وساتي، نو باید د پیسو سپینولو او ترهګرۍ مالي ملاتړ خوندي کولو هغې مبارزې ته دوام ورکړي، چې تر اوسه یې د مجبوریت له امله کړې ده.»

د امنیتي چارو کارپوه امیر رعنا هم د ونیا له کامران خان سره ټلوېزیوني پروګرام کې دعوه وکړه، چې د پاتې ۱۳ برخو په هکله د پاکستان څرګندونې نسبتاً رضایت بښونکې دي او اټکل یې وکړ چې له خړ نوملړ به د دې هېواد نوم لرې شي.

اپوزیسیون ګوندونو بیا بیا حکومت د ۲۴ کسیز کمېسون پرېکړو ته په بې غورۍ تورن کړی دی او حکومت هم پر دوی تور پورې کوي چې د ایف اې ټي ایف له طرحو ملاتړ یې د ځواب ویلو په ډېروالي پورې مشروط کړی دی.

خو مخالف ګوندونه دعوه کوي چې حکومت د ایف اې ټي ایف اړوند قوانینو پلمه کولو سره استبدادي واک غواړي.

دا بحث رسنیو کې هم شته. لیبراله انګریزي ورځپاڼه ډان لیکي: «د ایف اې ټي ایف اړوند مصوبو په نوم حکومت د اقتصادي ترهګرۍ د طرحې تصویب لپاره نااخلاقه هڅې ډېرې اندېښمنوونکې دي.»

د دې ورځپاڼې په باور: «د دې طرحې له تصویب سره له امنیتي غړو جوړو کمېټو تر ۱۸۰ ورځو د هر وګړي د نیولو غوښتنه کولی شوه، خو له نیکه مرغه مخالف ګوندونه یې د تصویب خنډ شول.»

خو ملتپالې ورځپاڼې نوای وقت له اپوزیسیون ګوندونو غوښتې چې مصلحت ته مخه کړي.

هغه لیکي: «پاکستان ځکه دې طرحې ته اړتیا لري چې ایف اې ټي ایف ترې دې دا ډول طرحې غوښتنه کوي.»

خو دا دلیل په دې عجیبه دی چې پاکستان څه مهال مخکې د خپلو چارو رپوټ ایف اې ټي ایف ته سپارلی دی.

# د دوحې غونډه د افغانستان لپاره تاریخي ورځ؛

## اکثریت هېوادونه او نړیوال بنسټونه د مذاکراتو ملاتړي او د اوربند غوښتونکي دي





په افغانستان کې د امریکا تر شل کلنې جګړې وروسته د لومړي ځل لپاره بین الافغاني خبرې پیل شوې. پرون د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او افغان حکومت د مخامخ خبرو د پیل مراسم وو، چې د ډېرو هېوادونو استازو پکې په حضوري او انلاین توګه برخه اخیستې وه. ټولو د افغانستان د سولې له پروسې ملاتړ وکړ. د طالبانو، امریکا او افغان حکومت دریځ هم خورا نرم و او دې هر څه سولې ته هیلې ډېرې کړې دي. طالبانو ټینګار وکړ چې دوی په افغانستان کې د اسلامي نظام د راتګ لپاره مبارزه کړې ده، خو ډاکټر عبدالله بیا د جګړې پر پای ته رسولو ټینګار وکړ.

پرون د افغانستان لپاره تاریخي ورځ وه. په دوحه کې د قطر د حکومت په کوربه توب د افغان حکومت او طالبانو ترمنځ مخامخ خبرې پیل شوې. د پرانیستونکې غونډې مشري د قطر د بهرنیو چارو وزیر کوله او په خپلو خبرو کې یې وویل، هڅه کوي چې په دې ډول مذاکراتو او غونډو په افغانستان کې له لسیزو راهیسې روانه جګړه ختمه کړي. د قطر د بهرنیو چارو تر وزیر وروسته د افغان حکومت په استازیتوب د ملي مصالحې عالي شورا رییس ډاکټر عبدالله عبدالله خبرې وکړې او ټینګار یې وکړ چې افغان حکومت د سولې لپاره هڅې کړې دي. د ده په خبره، افغان حکومت بریالی شو چې د سولې په اړه د نړیوالو اجماع رامنځ ته کړي، د سیمې هېوادونه په دې پروسه کې همکار کړي او د دې مهمې پروسې له لارې ټول شته خنډونه له منځه یوسي. عبدالله زیاتوي: «موږ نړیواله اجماع پیاوړې کړه، بندیان مو خوشې کړل، د سولې د لارې هر خنډ مو د دې لپاره لرې کړ چې روانه جګړه د خبرو له لارې حل کړل شي.»

عبدالله عبدالله په خپلو خبرو کې د اساسي قانون، تېرو لاس ته راوړنو د ساتلو او دغه راز د جمهوریت ساتل هم د خبرو مهم ټکي وبلل او په خبره یې، روان مذاکرات باید په لومړي سر کې او تر هر څه وړاندې په افغانستان کې د تاوتریخوالي د کموالي سبب شي.

تر عبدالله عبدالله وروسته د طالبانو په استازیتوب د مولوي هیبت الله سیاسي مرستیال مولوي عبدالغني برادر خپله وینا واوروله او ټینګار یې وکړ چې دوی په افغانستان کې د یوه قوي اسلامي نظام د رامنځ ته کولو لپاره مبارزه کړې ده. هغه وایي، هدف یې دا دی چې په دغه هېواد کې یو اسلامي نظام جوړ شي او د بهرنیانو مداخلې ختمې کړل شي. هغه یو ځل بیا له امریکا د سولې پر هوکړه د عمل او وفا غوښتنه وکړه. د ملا برادر په خبره، طالبانو له خپل لوري د سولې پر هوکړه عمل کړی دی او له امریکا هم دا تمه لري چې پر دې هوکړه عمل وکړي.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر هم څلورم کس و چې په دې غونډه کې یې وینا وکړه. هغه وویل، په افغانستان کې د خپل هېواد نظام نه تحمیلوي او افغانان کولی شي په خپلو کې د یوه قوي نظام پر جوړولو سره سلا شي. د ده په خبره، امریکا د سولې له پروسې ملاتړ کوي او د دې هیله لري چې د سولې لپاره روان رامنځ ته شوی فرصت ضایع نه کړل شي او ټول ښکېل اړخونه د سولې لپاره خپلو هڅو ته ادامه ورکړي.

د دې تر څنګ د ډېرو هېوادونو استازو هم په انلاین او حضوري توګه د سولې په دې پرانیستونکې غونډه کې برخه اخیستې وه. ترکیه، ترکمنستان، ازبکستان، هند، پاکستان، اندونیزیا، چین، د اسلامي همکاریو سازمان، د ملګرو ملتونو نړیوال سازمان، د ناټو سازمان او نور د دې غونډې برخه وال وو.

د ملګرو ملتونو عمومي منشي وویل چې دوی په افغانستان کې د سولې غوښتونکي دي او د پیل شوو مذاکراتو هرکلی یې کړی دی؛ خو ټینګار یې کړی چې تر هر څه وړاندې باید پر اوربند خبرې وشي او بشردوستانه اوربند دې تامین شي. ترکیې هم ټینګار وکړ چې تر هر څه وړاندې باید تاوتریخوالی کم شي؛ ځکه جګړه او سوله په یوه وخت کې نه کېږي.

د ناټو عمومي منشي هم د پیل شوو خبرو هرکلی وکړ، خو ټینګار یې وکړ چې باید تاوتریخوالی کم شي او خبرې د جګړو د پای ته رسېدو سبب شي. چین، هند، پاکستان او نورو هېوادونو هم د سولې له بهیر ملاتړ وکړ او ټینګار یې وکړ چې په افغانستان کې د سولې او ثبات له راتګ سره پوره همکار دي.

# ایران: د اسراییل او عربي هېوادونو ترمنځ د اړیکو بېرته رغول د تاریخ تر ټولو شرمونکی اقدام دی

ایران له اسراییل سره د بحرین د بشپړو ډیپلوماتیکو اړیکو جوړولو پرېکړه غندلې ده. دا په داسې حال کې ده چې سپینې ماڼۍ ورمه ورځ د بحرین او اسراییلو ترمنځ د اړیکو د بېرته رغولو د هوکړې اعلان وکړ.

په ورته وخت کې، راپورونه وايي چې درې واړه هېوادونه به راتلونکې اونۍ په واشنګټن کې په دې تړاو په جوړو شویو مراسمو کې ګډون وکړي، خو د ایران د بهرنیو چارو وزارت په یوې اعلامیې کې دا ناسمه پرېکړه بللې او ویلې یې دي چې دا به په تاریخ کې د دوی په وینا، د یوه شرموونکي اقدام په توګه ثبت شي. ایران بحرین تورنوي چې د فلسطین د اوږدې مودې زحمتونه د امریکا د ولسمشر ډونالډ ټرمپ د انتخاباتي کمپاین لپاره قرباني کوي.

تهران زیاتوي چې د فلسطین خلک او اسلامي نړۍ به هېڅکله له اسراییل سره د اړیکو رغول ونه مني. دا په داسې حال کې ده چې نږدې څلور اونۍ وړاندې متحده عربي اماراتو هم له اسراییل سره ورته هوکړه کړې ده.

بلخوا د امریکا ولسمشر ډونالډ ټرمپ د اسراییل او بحرین د اړیکو ښه کېدل یو تاریخي بری بللی دی. ټرمپ دغه راز د امریکا، اسراییل او بحرین د ګډ بیان متن هم خپور کړی او ویلي یې دي چې د بحرین پاچا د اسراییل له لومړي وزیر سره په کتنه کې د اړیکو د عادي کولو هوکړه کړې ده، خو د فلسطین اداري او حماس ډلې دا موافقه غندلې او پر فلسطین‌یې تېری بللی دی.

د یادونې ده چې تر دې وړاندې متحده عربي اماراتو تېره میاشت له اسراییل سره هوکړه وکړه او بیا مصر او اردن اعلان وکړ چې له اسراییل سره خپلو سیاسي اړیکو ته د بیا کتنې په پایله کې یې روابط عادي کړي دي.

بلخوا د بښنې نړیوال سازمان پر اسراییلو غږ کړی چې ژر تر ژره دې په ناقانونه توګه په فلسطیني سیمو کې د کورونو جوړولو لړۍ ودروي. یاد سازمان ویلي چې په منځنۍ ختیځ کې هغه مهال سوله شونې ده چې ناقانونه کړنې ودرول شي، بشري حقونه خوندي شي او عدالت پلی شي.

دغه سازمان همدارنګه زیاته کړې چې نړیواله ټولنه باید د فلسطنیانو غږ واوري او پر دې مسئلې چوپ پاتې کېدل به ښې پایلې ونه لري.

## د کتاب خبرې

# افغانستان او سیمه‌ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې

لیکوال : څېړندوی محمد سرور احمدزی

### دویم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ پېژنده




افغانستان چې له یوې اوږدې بې ثباتۍ سره مخامخ دی د سیمې سوله او ثبات یې له گواښ سره مخامخ کړي دي، له همدې امله د سیمې د هېوادونو مشران د افغانستان د حالاتو په اړه اندېښنې لري او په دې اند دي، چې د جگړې او بې ثباتۍ دوام به ټوله سیمه ناامنه کړي، له همدې امله هغوی په خپلو هېوادونو کې د دایمي ثبات لپاره په افغانستان کې د سولې او ثبات ټینگښت اړین بولي، اوسنیو حالاتو د افغانستان حکومتي مشرانو ته د دې زمینه برابره کړې چې له یادو هېوادونو سره همکاري وکړي او د هغوی همکاري هم ترلاسه کړي افغانستان چې په وچه کې ایسار هېواد دی، بهرنیو مارکیټونو ته د لاسرسي لپاره د خپلو گاونډیو هېوادونو همکارۍ ته اړتیا لري، د سیمه‌ییزې همکاریو د پراختیا له لارې کولای شي د نړۍ له مختلفو هېوادونو سره خپلو اړیکو او همکاریو ته پراختیا ورکړي د افغانستان ولسمشر ډاکټر محمد اشرف غني د سیمه‌ییزې همکارۍ په اړه په خپل یو پیغام کې څرگنده کړې وه چې د افغانستان راتلونکی له سیمه‌ییزو همکاریو او د سیمه‌ییزو سازمانونو له پیاوړتیا سره تړاو لري .

زموږ په سیمه کې د ډېرو هېوادونو اوسېدونکي له مانوي او مادي امکاناتو څخه محروم او له فقر، بېکارۍ، بېسوادۍ او جگړو سره مخامخ دي . په سیمه کې له یوې اوږدې مودې راهیسې بې ثباتي او ناامني دوام لري، ثبات د یوې ټولنې او سیمې د پایدارې اقتصادي او ټولنیزې ودې لپاره ډېر مهم گڼل کېږي او دایمي ثبات په یوه سیمه کې له مادي او مانوي ظرفیتونو څخه د سمې او اغېزمنې گټې اخیستلو په صورت کې رامنځ ته کېدای شي .

سیمه‌ییزه همکاري د سیمې د ټولو هېوادونو د ملي گټو له خوندیتوب سره ډېره مرسته کولای شي او د سیمې د ټولو هېوادونو لپاره مهمه او با ارزښته گڼل کېږي . د سیمه‌ییزې همکارۍ د پراختیا له لارې د سیمې د هېوادونو سوداگر سیمه‌ییزو مارکیټونو او بازارونو ته په اسانۍ سره لاسرسی پیدا کولای شي او سیمه‌ییزه همکاري د سیمې د هېوادونو ترمنځ د سوداگریزو او ترانزیټي اړیکو د پراختیا او اقتصادي ودې لپاره مهمه گڼل کېږي .

سیمه‌ییزه همکاري د سیمه‌ییزو ستونزو له حل سره ډېره مرسته کولای شي، په یوې سیمه کې د سولې او ثبات د ټینگښت، مالي ثبات او د ناروغیو د مخنیوي په برخه کې د هېوادونو ترمنځ همکاري د سیمه‌ییزې همکارۍ له لارې ترسره کېدای شي، د نړیوال کېدو په اوسني عصر کې سیمه‌ییزه همکاري یوه پیچلې پروسه گڼل کېږي، د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره له مختلفو میکانیزمونو څخه استفاده کېږي او د همکارۍ دوام او اغېزمنتوب د اړوندو هېوادونو په حکومتي ادارو پورې تړلې گڼل کېږي. نو زموږ په سیمه کې د هېوادونو ترمنځ په سیاسي، اقتصادي، فرهنگي، امنیتي، اجتماعي، روغتیایي او نورو برخو کې د اړیکو او همکاریو د پراختیا لپاره جدي اړتیا لیدل کېږي .

### درېیم فصل
### د سیمه‌ییزې همکارۍ لپاره شته فرصتونه

#### الف ـ سیمه‌ییزې اقتصادي پروژې

د افغانستان په گاونډ کې د نړۍ ځینې ستر اقتصادي قدرتونه د ځینو مهمو سیمه‌ییزو اقتصادي پروژو په عملي کولو او تطبیق کار کوي او یادې سترې سیمه‌ییزې اقتصادي پروژې په مستقیم ډول د افغانستان لپاره اقتصادي، سیاسي او ټولنیزې گټې له ځانه سره لري . په دغو پروژو کې تر ټولو مهمه پروژه د چین د یو دهلیز یوې لارې پروژه (One Belt One Road) ده چې له ۱۰۰ میلیاردو ډالرو زیات لگښت پرې راځي او له مرکزي اسیا او پاکستان څخه به تېرېږي .

په سیمه کې دویمه ستره پروژه د قزاقستان په نوښت رامنځته شوې مهمه ستره سیمه‌ییزه پروژه د د وریښمو هوایي پروژه) (Silk Wind Project ده چې سیمه‌ییز ملاتړ له ځان سره لري او دجوړېدو چارې یې پیل شوي دي درېیمه ستره اقتصادي پروژه د ترکیې د وریښمو د نوې لارې پروژه (Turkeys Modern Silk Road Project (ده چې له مهمو او سترو سیمه‌ییزو پروژو څخه گڼل کېږي او د امریکا دوریښمو نوې لارې پروژه( Silk Road Project ) ده چې په افغانستان متمرکزه ده. له ۲۰۱۱ زکال راهیسې امریکا غواړي د یادې پروژې له لارې د افغانستان، مرکزي اسیا، هند او پاکستان ترمنځ سوداگریزو اړیکواو همکاریو ته پراختیا ورکړي.

دوام لري...

# رویان د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




رویان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې د ۱۳۹۳ کال په وري میاشت کې د بغلان ولایت په پلخمري ښار کې د دوو پوهنځیو (حقوق او سیاسي علومو او ښوونې او روزنې) په درلودلو سره پر فعالیت پیل وکړ. د لوړو زده کړو د دې موسسې د محصلانو آمر نجیب الله یعقوبي وایي، د ۱۳۹۵ کال په لومړیو کې یې لوړو زده کړو وزارت ته د اقتصاد پوهنځي د جوړولو وړاندیز وکړ، چې د وزارت لخوا یې وړاندیز ومنل شو او د فعالیت اجازه یې ورکړه. رویان د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال درې پوهنځي لري چې په درې واړو پوهنځیو کې عملاً محصلین پر لوړو زده کړو بوخت دي.

ښاغلی نجیب الله یعقوبي وایي، په لومړي سر کې یې د محصلینو شمېر ډېر و، خو په شمالي ولایتونو کې د ناامنیو له کبله یې کال په کال د محصلینو شمېر د پام وړ کمېږي. دی وایي، په شمالي ولایتونو کې ټول خصوصي پوهنتونونه له دې ستونزې سره مخ دي، خو دا چې دوی د ښوونې او روزنې پوهنځی هم لري او هغه کسان هم د محصل په توگه نیسي چې تر څوارلسم ټولگي پورې یې زده کړې کړې وي، نو ویلای شي چې له همدې کبله یې د نورو پوهنتونونو په پرتله د محصلینو شمېر ډېر دی. نوموړی زیاتوي، تر اوسه پورې یې له ښوونې او روزنې پوهنځي څخه څلور دورې، له حقوقو او سیاسي علومو درې دورې او یوه دوره محصلین یې له اقتصاد پوهنځي فارغ کړي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي. د هغه په خبره، همدا اوس ۵۵۰ محصلین په رویان د لوړو زده کړو موسسه کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. ښاغلی یعقوبي وایي چې له دې کار څخه یې موخه یوازې خلکو ته خدمت کول دي او په خبره یې، همدا اوس ور سره ډېر کسان په وړیا ډول زده کړې کوي.

د لوړو زده کړو وزارت د طرزالعمل له مخې، خصوصي پوهنتونونه په کال کې دوه ځله د کانکور ازموینې د اخیستو حق لري. د رویان لوړو زده کړو موسسې د محصلانو آمر وایي، هر کال یې د نویو محصلینو جذب توپیر کوي او دغه څه تر ډېره په امنیتي او اقتصادي شرایطو پورې تړلي وي. هغه وایي، مخکې به یې هر کال د اوو سوو په شاوخوا کې نوي محصلین جذبول، خو اوس چې امنیتي او اقتصادي شرایط سم نه دي، نو دوی په کال کې د پنځو سوو په شاوخوا کې د کانکور ازموینې له لارې نوي محصلین جذبوي.

د رویان د لوړو زده کړو خصوصي موسسې اداره وایي، په ټولو معیارونو برابر، مجهز او غني کتابتون لري، چې د درې زره په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه یې پکې ځای پر ځای کړي دي. نجیب الله یعقوبي زیاتوي، په دې وروستیو کې ور سره ځینو بنسټونو د درې سوه جلده حقوقي کتابونو مرسته کړې ده. د ده په خبره، هڅه یې دا ده څو ورځ تر بلې خپل کتابتون غني کړي. د یعقوبي په خبره، محصلین او استادان یې کولای شي چې هر وخت د موسسې له کتابتون څخه گټه واخلي او مطالعه پکې وکړي. د کتابتون تر څنگ په دغه موسسه کې د محصلینو لپاره د انټرنېټ کلب او کمپیوټر د زده کړې امکانات هم برابر شوي دي.

رویان د لوړو زده کړو موسسې په ۱۳۹۸ کال کې د تاجکستان له ملي پوهنتون سره د دوو اړخیزو همکاریو یوه هوکړه لاسلیک کړې ده، چې له مخې یې د دې موسسې څخه فارغ محصلین کولای شي د تاجکستان په ملي پوهنتون کې په پنځوس سلنه تخفیف د ماسټرۍ پروگرام پیل کړي. د نوموړي په خبره، د محصلینو تر څنگ یې ډېری هغه استادان چې د لېسانس تر کچې پورې یې لوړې زده کړې کړې دي، ځینو یې په دې پوهنتون کې د ماسټرۍ دوره بشپړه کړې ده او ځینې لا اوس هم دغه پروگرام تعقیبوي. یعقوبي وایي چې په کور د ننه له ټولو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري.

د دې موسسې د محصلانو آمر وایي، تر اوسه پورې یې فارغ شویو محصلینو ته هغه ډیپلومونه نه دي ورکړي چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا ویشل کېږي، خو د پوهنتون د ادارې او لوړو زده کړو وزارت تایید شوې تصدیق نامې یې ورکړې دي، چې محصلین یې کولای شي په کومه اداره کې ور باندې دنده واخلي او یا هم په بهر کې ور باندې نورې لوړې زده کړې وکړي. نجیب الله یعقوبي وایي چې همدا اوس یې ډېری فارغ شوي محصلین په تاجکستان، روسیه او ایران کې د ماسټرۍ په کچه زده کړې کوي. دی وایي، لوړو زده کړو وزارت ته یې د ډیپلومونو پیسې تحویل کړې وې، خو څه موده وروسته بېرته ورته وسپارل شوې. د نوموړي په خبره، د لوړو زده کړو وزارت ټاکلي معیارونه باید پوره کړي او له هغه وروسته به یې فارغ شویو محصلینو ته د لوړو زده کړو وزارت لخوا هغه ډیپلومونه وویشل شي، چې د نورو دولتي پوهنتونونو محصلینو ته ورکول کېږي.

د رویان د لوړو زده کړو موسسې په دریو پوهنځیو کې د تدریس چارې د ۵۰ په شاوخوا کې استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې په دې کې دایمي او قراردادي استادان دواړه شامل دي. یعقوبي وایي چې ټول استادان یې د لېسانس له کچې لوړې زده کړې لري، چې په خبره یې، ډېری استادان یې د ماسټرۍ او پاتې نور بیا د دوکتورا تر کچې پورې لوړې زده کړې لري.

د رویان د لوړو زده کړو موسسه د محصلینو د وړتیاوو لوړولو لپاره بېلابېل پروگرامونه لري. د دې موسسې د محصلانو چارو آمر وایي، دوی د کتاب په نوم اونیز بحث لري چې محصلین علمي کتابونه ټاکي او هره اونۍ پر یوه کتاب باندې بحث کوي او معرفي کوي یې. تر څنگ یې ډېر نور دغه ډول علمي او فرهنگي پروگرامونه لري، چې محصلین برخه پکې اخلي څو هم تجربې تر لاسه کړي او هم یې علمي سویه لوړه شي. له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقاع کول، د نویو پوهنځیو ایجادول او په هر اړخیزه توگه پرمختگ کول د رویان د لوړو زده کړو موسسې راتلونکي پلانونه دي. د دې موسسې اداره وایي، محصلینو ته یې ټول هغه امکانات برابر کړي، چې یو پوهنتون یې باید ولري. شنه او اکاډمیکه فضا او د نارینه او ښځینه محصلینو لپاره د ټرانسپورټ برابرول د رویان د لوړو زده کړو موسسې له هغو ځانگړتیاوو څخه دي، چې په بغلان ولایت کې یې نور خصوصي پوهنتونونه نه لري.

نجیب الله یعقوبي وایي، په لوړو زده کړو وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو په ریاست کې د کار کوونکو کموالی د دې لامل شوی، څو د دوی کارونه وځنډېږي او له مراجعینو سره سوړ چلن وشي. دی په دې ریاست کې د فساد تورونه ردوي، خو وایي، دا چې د دې ریاست د کارکوونکو شمېر کم او د خصوصي پوهنتونونو کار او شمېر زیات دی، نو دغه څه د دې لامل شوي چې د ریاست کارکوونکي له مراجعینو سره سوړ چلن وکړي. دی وایي چې له چا مرسته نه غواړي او هڅه یې دا ده چې پر ځان بسیا شي او اداره یې په هر اړخیزه توگه پرمختگ وکړي.

ډېری خصوصي پوهنتونونه له لوړو زده کړو وزارت څخه شکایت کوي، چې له خصوصي پوهنتونونو سره د مور او میرې چلن کوي او هغه امکانات چې دولتي پوهنتونونو ته یې په واک کې ورکړي دي، خصوصي پوهنتونونو ته یې نه ورکوي. دوی وایي چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي پوهنتونونو لپاره داسې معیارونه وضعه کړي، چې ډېر سخت او ان تر اوسه پورې په دولتي پوهنتونونو کې هم نه دي عملي شوي. د خصوصي پوهنتونونو بله ستونزه په لوړه کچه د مالیې ورکړه ده چې په خبره یې، دغه څه د خصوصي پوهنتونونو د پرمختگ مخه نیولې ده.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,٦٥ |
| € | ۸۹,۵۰ |
| Rp. | ٤٥۷ |
| ₹ | ۱۰٤۰ |
| ¥ | ۱۰,٦۰ |
| £ | ۹۷ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# ایا ستاسې موخه نورو ته کومه گټه لري؟

**ژباړه: امان الله «حنیفي»**

که د یو چا بخت وینښ شي او هغه د ځان لپاره یو فوق العاد ښه ژوند برابر کړي، دا حق نه لري چې ټول امکانات تر ځان محدود کړي. ژاک یوس کاستیو
که پوهیږی چې موخې مو دومره ارزښت لري چې ټول عمر د هغه لپار هڅه وکړی، باید په دې اړه له ځانه پوښتنه وکړئ. دا پوښتنه سخته نه ده. «ایا زما موخې نورو ته گټه رسوي؟»

**ستاسې موخې کومو کسانو ته گټه رسوي؟**

په خپل کاري دفتر کې مې د کتابونو یوه الماری ده چې ډېر ارزښت راته لري. ټول پکې پخواني او ارزښتناک کتابونه دي. له هغوی ځینې د هوداتیو الجر داستاني کتابونه دي او ځینې هم د جان وسلي اثار دي. دا کتابونه کوم مادي ارزښت نه لري، بلکې دا د دوی معنوي ارزښت دی چې زه ورته احترام لرم. دا هغه کتابونه دي چې زما پر شخصي ژوند یې ډېر زیات اغېز کړی دی. هغه هره یوه د ژوند د بېل بېل اړخ په اړه یو درس راکړی دی او د دې سفر کولو لار یې راته راښودلې ده. زه ډېرې وخت دا کتابونه لولم. زه دا کتابونه بیرون ته هم له ځان سره وړم او هغه یادابنتونه چې د هغوی په حاشیو کې مې لیکلي، هغه لولم.
همدا اوس مې چې د «هیلي مو پر رښتیا بدلې کړئ» پر کتاب کار کاوه، له هغه الماری مې «هاف ټایم» د بافورډ اثر را واخیست. دې کتاب په دې ۴۰ کلونو کې راباندې ډېر زیات اغېز کړی دی.
بافورد لیکي: «د ژوند نیم دوران را ټولول دي، نیم نور یې زده کړه او گټه وټه ده، خو د دویمې نیمایي یې بیا خطیر دی؛ ځکه په ژوند کې له بېلابېلو پېښو سره مخ کېږو.» دا کتاب را ته د دې لامل شو چې له حد زیات ژوند ته متوجې شم او هڅه وکړم چې له خپل طبیعي دروني خودخواهۍ سره یو ځای شم.
دا کتاب را ته د دې لامل شو چې له حد زیات ژوند ته متوجې شم او هڅه وکړم چې له خپل طبیعي دروني خودخواهۍ سره یو ځای شم». بافورد
د تاریخ د مشهورو او لویو کسانو عظمت او درناوی د هغوی د پانگې او گټې وټې له امله نه و، بلکې د هغوی درناوی نورو ته د خدمت کولو له وجې و. د هغوی موخه دا وه چې نورو ته یې گټه ورسېږي. ډېر کم کسان کولای شي چې د سختیو او ستونزو په گاللو سره او خپلو موخو ته په رسېدو سره، نړۍ بدله کړي. دغه کسان چې کله مړه شي، خلک به د هغوی په فزیکي وجود له پناه کېدو سره هغوی هېر نه کړي، د هغوی موخې د هغوی له مرگ وروسته هم ادامه پیدا کوي، ځکه هغوی د نورو لپاره ژوند کړی دی.

**پیاوړی استعداد**

تر اوسه تر ټولو جالب داستان چې د خپلې خوښې وړ ځای یا د خوښې وړ کس د تبدیلېدو او د خپلو موخو د لاس ته راوړلو لپاره مې د لویې قربانۍ په ورکولو سره لوستی، هغه د ویلیام ویلبر فورس دی. د هغه نوم تر ارکان فیلم پورې چا نه پېژانده، ویلبر د مطلوبې بریا غوښتونکی و او بالاخره هغه ته یې خپل ژوند وقف هم کړ.
ویلبر فورس په ۱۷۵۹ ز کال کې په انگلیستان کې پیدا شو، دا وخت سوداگري په دغه هېواد کې ښه وده کړې وه او ډېرې خلکو یې عملاً سوداگري کوله. هغه په ډېر کوچنیوالي کې له پلاره پاتې شو او په همدې سبب هغه خپل ډېر عمر له خپل تره او عمه سره چې ډېر مذهبي خلک وو، تېر کړ او په همدغه کورنۍ کې په لس- یوولس کلنۍ کې د لومړي ځل لپاره د تجارت له موضوع سره مخ شو.
هغه له جان ینوتون سره چې لویې بار وړونکې کښتۍ به یې چلولې، اشنا شو. جان له هېڅ مذهب نه لرلو کشیشۍ ته مخ کړه. خو له کښتۍ سره د هغه تر اشنا کېدو څو کلونه وروسته، ویلبر فورس کوم ظاهري بدلون ونه کړ.
ویلبر فورس په ډېر ناز او نخرو سره را لوی شو او په کمبریج پوهنتون کې یې درس ولوست. هغه هېڅ لایق زده کوونکی نه و، خو د هغه جذابیت، شوخ طبیعی او د نورو مصروف ساتلو او لوبولو توانایی هغه ټولو ته ور پېژندلی و.
ویلبر فورس په ۲۰ کلنۍ کې په دې فکر کې شو چې د خلکو استازولی ته ځان کاندید کړي. هغه وخت د دنیا بریالی سیاست د دوو عواملو تر اغېز لاندې و: یو بلاغت او بل هم پیسې او ویلبر فورس دا دواړه لرل. هغه په څو میاشتو کې ۹۰۰۰ زره پونډه چې ډېرې زیاتې پیسې وې، مصرف کړې او یوه اونۍ وروسته د خپل عمر په ۲۱ کلنۍ کې پارلمان ته ورسېد.
ویلبر فورس د لندن په سیاست کې یو وتلی نوم دی. هغه ډېر ژر د پنځو سیاسیونو په ډله کې شامل شو. هغه د اړیکو ټینگولو ځانگړې وړتیا درلوده. ځینې کسان خو هغه د بریتانیا تر ټولو خوږ ژبی انسان بولي. د هغه خبرو پر نورو ډېر زیات اغېز کاوه. هغه ډېر ښکلی غږ درلود. په پارلمان کې له څو کلونو فعالیت وروسته ډېرو کمو کسانو له هغه سره په وینا کې سیالي کوله. هغه په ۲۴ کلنۍ کې دومره پیاوړی شو چې نور یې چا د پرمختگ مخه نه شوای نیولای. د هغه خصوصیاتو ته په کتو، سړی دا سم نه شي اټکل کولای چې هغه به تر کومه ځایه پرمختگ وکړي.
خو تر کومه ځایه یې پرمختگ وکړ؟ پارلمان ته د هغه بریالي کېدل د هغه لپاره یوه لویه بریا وه او دا وخت یې کومه بله موخه نه درلوده.
هغه ډېرې لویې موخې او ښه استعداد درلود، خو نه پوهېده چې په ژوند کې کوم هدف تعقیب کړي. کلونه وروسته ویلبر فورس د خپل تېر وخت په اړه داسې وویل: «په پارلمان کې مې په لومړیو کلونو کې هېڅ هم ونه کړل، هغه وخت مې یوازې د محبوبیت امتیاز درلود». هغه دا وخت هېڅ کومه ښه لاس ته راوړنه نه درلوده.

**فوق العاده موخه**

خو کله چې په ۱۷۸۴ ز کال کې ویلبر فورس په ځوانۍ کې د خپل مذهبي باور ارزونې ته وخت ورکړ، ټول څه ورسره بدل شول. هغه یو لوی بدلون تجربه کړ. اووه کلونه وروسته هغه یو متفاوت انسان شو. دې بدلون د ټول انگلستان له غریبو او اړمنو خلکو سره په مرسته کولو کې مرسته وکړه، خو کلونه وروسته یې د ځان لپاره بله موخه وټاکله.
ویل کېږي چې غلامي له انسان سره یو شان تاریخ لري. د باستان له دوره پاتې شوي تاریخي اثار دغه موضوع ښه تاییدوي، خو په ۱٦مه او ۱۷مه میلادي پېړۍ کې له غلامانو سره ډېرې ظالمانه کړنې او بد عکس العملونه د نړۍ په غربي هیواد انگلستان کې وشول. انگلیسي کښتیو د دغه هېواد د سواحلو توکي د افریقا په قصد پرېښودل. هغوی خپل مالونه په افریقا کې وپلورل، هغوی هلته ښځې او سړي وپلورل او د تور پوستو ماشومانو پر پلورنه یې شروع وکړه، هغوی نور غلامان هم وپېرل. د هغوی له غلامانو ډکې کښتۍ د اطلس له اقیانوسه تېرې شوې، خو د هند غربي جزیرو ته ورسېدې او هلته یې افریقایي غلامان وپلورل. ډېری دغه غلامان له څو کلونو سخت او دروند کار کولو وروسته د چرسو په لویو کروندو کې مړه شول، ډېری دغه تر استعمار لاندې غلامان چې وروسته بیا د امریکا پر متحده ایالاتو بدل شول، پلورل کېدل. په ۱۷۸۰یمو کلونو کې ډېری انگلیسي وگړي له دغو جریانونو خبر شول، خو ویلبر فورس له دې حالته په ښه ډول خبر و. هغه تصمیم ونیو چې په انگلستان کې به د غلامانو اخیستل او خرڅول ختموي. هغه دغه مسوولیت د ځان لپاره تر ټولو ارزښت لرونکی رسالت بللی و.
د هغه دا موخه نه یوازې د ځان؛ بلکې د نورو لپاره هم د اهمیت وړ او په تر لاسه کولو سره یې ډېرو خلکو ارام واخیست.
که ستاسې موخې پر تاسې سربېره، نورو ته هم گټه ورسوي، تاسې به پر یو الگو کس بدل کړي.

## ملگري ملتونه: د افغانستان حساسو شرایطو ته په کتو، تر هرڅه وړاندې باید اوربند وشي

ملگرو ملتونو د افغانانو تر منځ د مخامخ خبرو د پیل هرکلی کړی دی. د ملگرو ملتونوعمومي منشي انتونیو گوتریش د بین الافغاني خبرو د پیل مراسمو ته په انلاین توگه د خبرو پر مهال د سولې د پیل شوو مذاکراتو هرکلی وکړ. نوموړي وویل چې د افغان سولې پروسه د ملگرو ملتونو له بشپړ ملاتړ برخمنه ده او ملگري ملتونه تمه لري چې دلته روانه جگړه ژر تر ژره د خبرو له لارې پای ته ورسول شي.
هغه ټینگار وکړ چې د نړۍ په حساسو شرایطو کې په مذاکراتو کې باید تر هر څه وړاندې بشردوستانه اوربند رامنځ ته شي.
گوتریش دغه راز ژمنه وکړه چې ملگري ملتونه د افغانستان پراختیا او اقتصادي ودې ته ژمن دي او د دغه هېواد په پرمختگ او سوله کې خپلو هر اړخیزو مرستو ته د تېر په څېر ادامه ورکوي.
بلخوا ترکیې هم ویلي چې دوی د بین الافغاني خبرو بشپړ ملاتړي دي، خو دا مذاکرات تر هر څه وړاندې باید د اوربند سبب شي. د ترکیې د بهرنیو چارو وزیر محمود چاووش اوغلو د بین الافغاني خبرو په پرانیستغونډه کې د خبرو پر مهال وویل چې د سولې له پروسې سره هر اړخیزه همکاري کوي، خو دغه مذاکرات باید تر هر څه وړاندې د بشردوستانه اوربند سبب شي.
د ده په خبره، هېڅ وخت د سولې خبرې او جگړه یو ځای مخ ته نه شي تللی، نو دواړو لورو ته په کار ده چې لومړی باید اوربند وکړي او په همدې لړ کې دې مذاکراتو ته ادامه ورکړي. اوغلو دغه راز ټینگار وکړ چې ترکیه تل د افغانستان تر څنگ ولاړه ده او همدا چې افغانستان ته سوله او ثبات راځي، دوی به له دغه هېواد سره خپلې اقتصادي همکارۍ نورې هم ډېرې کړي.

## د بشري حقونو کمېسیون: د سولې په روانو خبرو کې باید بشري حقونه خوندي پاتې شي

د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون او د بشري حقونو سازمان په بین الافغاني مذاکراتو کې د بشري اساسي حقونو په خوندیتوب ټینگار کوي.
د افغانستان د بشر د حقونو خپلواک کمېسیون د نشراتو رییس ذبیح الله فرهنگ د بین الافغاني خبرو د پیل د هرکلي ترڅنگ ویلي: «د قربانیانو او عامو خلکو غوښتنې باید د مذاکراتو د اساسي رکن په توگه وپېژندل شي، د قربانیانو غږ باید واورېدل شي، دغه شان په مذاکراتو کې باید د خلکو اساسي او بشري حقونه په رسمیت وپېژندل شي او باید درناوی ورته وشي او خوندي شي.»
دا په داسې حال کې ده چې تېره ورځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د بین الافغاني مذاکراتو د پیلېدو مقدماتي غونډه وشوه او ټاکل شوې، چې د دوشنبې په ورځ دغه خبرې په رسمي ډول پیل شي.
په ورته وخت کې د افغانستان د بشري حقونو سازمان رییس لعل گل لعل هم ورته نظر لري او د دواړو غاړو له مذاکراتي پلاوو غوښتنه کوي.
هغه زیاته کړې: «د جگړې په ښکېلو غاړو او مرکچي پلاوو باندې غږ کوو، چې د داسې سولې لپاره دې کار وکړي، چې عدالت پکې پلی وي، بشري حقونو ته پکې درناوی وشي، په تېرو شلو کلونو کې چې د بشري حقونو په برخه کې کومې لاس ته راوړنې وي، باید هغو ته پکې درناوی وشي.»
خو د جمهوري ریاست د لومړي معاونیت د رسنیو د دفتر مشر رضوان مراد په مذاکراتو کې د افغانستان د حکومت له اړخه د بشري حقونو د بشپړ خوندیتوب ډاډ ورکوي.
مراد ویلي: «په مذاکراتو کې د بشري حقونو، د ښځو حقونو او فعالانو حقونو موضوع نه یوازې د افغان حکومت، بلکې سیمه ییزو متحدینو ته هم سرې کرښې دي، د افغان حکومت لپاره اساسي معیارونه دي، چې د مذاکراتو په میز کې پرې بحث کېږي، خو معامله پرې نه کېږي.»



مسیر ورځپانه

**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي

**مرستیال:** شفیق امیرزی

**ایډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي

**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري

**گرافیک او ډیزاین:** ارمان

**چاپخونه:** وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦

۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com

0202502100 / 0777989696

www.maseerdaily.af

Maseer Daily

MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily



غوره کیفیت او چټک خدمات په وایګل چاپ کې تجربه کړئ!
WAYGAL PRINTING CO
if You Can Think it, we Can ink it.
+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul
waygalprinting.co
waygalprinting.co@gmail.com



یکشنبه د ۱۳۹۹ د وږي ۲۳مه | د ۲۰۲۰ د سپتمبر ۱۳مه | ۵۹۲یمه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۳۱ | ۳۳ | ۳۵ | ۳۱ | ۳۷ | ۳۱ |
| ۱۵ | ۱۶ | ۱۸ | ۱۷ | ۲۳ | ۲۰ |

شرعي وختونه: سهار ۰۴:۰۸ | لمر ختل ۰۵:۳۲ | ماسپښين ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۳:۲۸ | ماښام ۰۶:۱۳ | ماخوستن ۰۷:۳۹

## کابلوف: مذاکرات جاری بین الافغانی در قطر باید آغاز برقراری صلح در سرتاسر افغانستان باشد



ضمیرکابلوف نمایندهٔ خاص روسیه برای افغانستان ابراز امیدواری کرده که مذاکرات جاری میان دولت افغانستان و طالبان در قطر، آغاز برقراری صلح در سرتاسر افغانستان باشد.

کابلوف که در مذاکرات بین افغان‌ها به عنوان ناظر شرکت کرده گفته است: «امیدواری ما اینست که این مراسم تنها به عنوان یک مراسم باقی نماند بلکه آغاز برقراری صلح و آشتی در سرتاسر افغانستان باشد.»

پیش از این روسیه در ماه فبروری ۲۰۱۹ میزبان گفت‌وگوها میان نماینده‌های طالبان و چهره‌های سیاسی به شمول حامد کرزی رئیس جمهور پیشین افغانستان بود، اما در آن گفت‌وگوها نمایندهٔ حکومت افغانستان حضور نداشت. در مذاکرات بین افغان‌ها در قطر، ده‌ها دیپلومات از کشورهای مختلف و نماینده‌های اداره‌های بین‌المللی به گونه‌ای حضوری و یا هم از راه دور اشتراک کرده بودند.

وزیرخارجهٔ قطر، نخستین سخنران مراسم افتتاحیه گفتگوهای صلح میان افغانان گفت که افغانها باید ازگذشته درس گرفته ازطریق مذاکرات بین الافغانی به اهداف شان برسند وبه درد ها ومشکلات گذشته پیروز شوند . در عین حال شیخ محمد بن عبدالرحمن آل ثانی وزیر امور خارجه قطر ضمن استقبال از آغاز مذاکرات بین الافغانی افزود، که کشورش تلاش های بیشتر برای آغاز مذاکرات بین الافغانی انجام داد تا افغانستان به صلح و ثبات دست یابد.

موصوف درادامهٔ صحبت هایش از همکاری امریکا و سایر کشور های جهان برای آغاز این مذاکرات ابراز قدردانی کرد و افزود: «نباید نقش کشور های جهان و منطقه در روند صلح افغانستان نایده گرفته شود، آنها یک نقش سازنده و حمایت گرانه داشته اند.»

## نړۍ




۳

## ټرمپ: ترهګر به بیا د امریکا پر خاوره د خونړیو بریدونو موقع پیدا نه کړي



د متحده ایالتونو ولسمشر ډونالډ ټرمپ ویلي چې د امریکا ولس به پر خپلو ارزښتونو ولاړ او متحد پاتې شي او ترهګر به بیا دا موقع پیدا نه کړي چې د امریکا پر خاوره خونړي بریدونه وکړي. د امریکا متحده ایالتونو ولسمشر په پنسلوانیا کې د هغو ۴۰ کسانو د درناوي په مراسمو کې خبرې وکړې چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپټمبر په ۱۱مه پر امریکا په بریدونو کې په ۹۳ نمبر پرواز کې ووژل شول.

ټرمپ ویلي چې له هغې ورځې راهیسې، تر ٦ میلیون زیات امریکایان، ښځې او نارینه د امریکا په وسله‌والو ځواکونو کې شامل شوي او له هغه راهیسې اووه زره پوځیان د ټرمپ په وینا، د امریکا له ازادۍ په دفاع کې وژل شوي دي.

هغه ټینګار کړی چې امریکا به هېڅکله د هغو ترهګرو له تعقیبه لاس وانه‌خلي چې د امریکا خلکو ته ګوانښ پېښوي.

ډونالد ټرمپ ویلي: «زموږ سپېڅلې دنده، زموږ حقیقي مسوولیت او زموږ کلک تعهد دا دی چې د هغو زړورو خلکو په لار به ځو چې ۱۹ کاله مخکې یې خپل ژوند زموږ لپاره قربان کړ. موږ به د هغوی په یاد کې، د واحد امریکایي ولس په توګه سره متحد پاتې کېږو.»

دا په داسې حال کې ده چې د ۲۰۰۱ میلادي کال د سپټمبر په ۱۱مه د امریکا د متحده ایالتونو په څو ځایونو کې حملې وشوې چې یوه‌یې په پنسلوانیا کې د ۹۳ پرواز الوتکه وه او شانکسوېل په نوم په یوه سیمه کې راوغورځېده. په هغه الوتکه کې لږترلږه ۴۰ تنه ووژل شول.

## تازه شمېرې: په نړۍ د کرونا وبا له کبله د مړو شمېر له ۹۲۰ زرو کسانو واوښت


د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې د کرونا ویروس مثبتې پېښې شاوخوا ۲۹ میلیونو ته رسېدلي دي. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې دمه ۹۲۰ زره او ۸۳٦ کسان مړه شوي او له ۲۰ میلیونو ډېر ترې بېرته رغېدلي دي.

د دغو شمېرو پر اساس، د امریکا متحده ایالتونه لاهم د کرونا د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. په یاد هېواد کې د کرونا ټولې مثبتې له ٦.٦ میلیونو اوښتې او تر دې دمه یې له کبله ۱۹۷ زره او ۴۷۲ امریکایان مړه شوي دي.

له امریکا وروسته هند د څلور میلیونه او ٦۸۸ زره او ۴۷۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د څلور میلیونه او ۲۸۳ زره او ۹۷۸ مثبتو پېښو له کبله د نړۍ دریم، روسیه د یو میلیون او ۵۷ زره او ۳٦۲ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ څلورم او پېرو د ۷۱٦ زره او ٦۷۰ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ پنځم هغه هېواد دی چې د کرونا ډېرې مثبتې پېښې پکې ثبت شوې دي. همدارنګه کولمبیا، مکسیکو، جنوبي افریقا، هسپانیا او ارجنټاین په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا وبا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

## ژوند

## له کوره کار؛ ډیزاین زده کړئ




د ګرافیک ډیزان زده کول مو په هر ځای کې په درد خوري. په یوازې ځان یې هم زده کول څه سخت نه دي او بل دا چې په بازار کې نن سبا د هر ډول پروګرام د زده کړې لپاره ویډیویي درسونه شته، چې کار یې ښخې اسانه کړی دی. هر څه یوازې ستاسو په مینې پورې اړه لري، که غواړی همدا اوس یې پیل کړئ. ان که اوس له دې کاره پیسې تر لاسه نه شی کړای، خو ډاډه اوسئ چې په ورځنیو چارو کې در سره ډېره مرسته کولی شي. که ټولنیزو شبکو ته مو پام وي، ډېری برخه یې انځورونو او ویډیوګانو نیولې ده. د شرکتونو د مارکېټېنګ برخه هڅه کوي، چې خپل توکي او محصولات په ښکلي ډیزاین بازار ته وړاندې کړي، تر څو پېرودونکي جذب کړي. پوهېږئ! همدا د ډیزاینر کمال دی چې پېرودونکي په خپل جال کې را ګیر کړي او د یوه داسې شي اخیستو ته یې وهڅوي چې هېڅ ورته اړتیا نه لري.

## سامسُنګ نوی چارجر په یو وخت درې خیزونه چارجوي



سامسُنګ کمپنۍ غواړي خپل ځانګړی وړتیا لرونکی وایرلېس چارجر مینه‌والو ته معرفي کړي. دغه چارجر چې سامسُنګ وایرلېس چارجر پډ ټرایو (Samsung Wireless Charger Pad Trio) نومول شوی، په یو وخت کې ګلکسي نوټ۲۰، ګلکسي واچ۳ او ګلکسي بډز لایف چارجولی شي. د دغه چارجر تصویر هم د باوري سرچینې، اېوان بلاس له لوري د نوموړي پېټریان پاڼې کې نشر شوی دی. دغه تصویر کې ښکاري چې دغه چارجر ډېر لوی دی او یو وخت څو اوزار په اسانۍ سره پکې ځایېږي. دغه چارجر کې د مختلفو اوزارو لکه ځیرک موبایل، ځیرک ساعت او ځیرک غوږۍ نښې هم ورکړل شوې دي. د معلوماتو افشا کوونکې دغه باوري سرچینه همدا راز زیاتوي چې دغه چارجر کې یو اېس بي – سي کارول شوی دی. پر دې سربېره، دغه تصویر د دغه


د انجوګانو لپاره جاري حساب

عزیزي بانک د انجوګانو لپاره ځانګړی محصول طراحي کړی. د انجوګانو لپاره د جاري حساب د طراحي موخه، د انجوګانو د معاملاتو لپاره جلا سېستم، غوره او ارزښتمنې چوپړتیاوې او یاد سکتور سره د اړیکو ښه مدیریت ده. د انجوګانو حساب په څلور اسعارو: افغانیو/ډالرو/یورو/انګلیسي پوندو پرانېستل کېدای شي.

د لازیاتو معلوماتو لپاره له 1515/0093701801515 شمېرې سره اړیکه ټینګه کړئ او یاهم د عزیزي بانک له نږدې ځانګې څخه لیدنه وکړئ

عزیزي بانک Azizi Bank MAIN BRANCH
Name : Abdullah
Account No : 00010000000
Customer ID : 1154588
Type of Account : CA. AFN
AZIZI BANK SWIFT CODE: AZBAAFKAXXX
For and help call Azizi Bank Call center on 1515
+93 (0) 701 801 1515 Email: customerservice@azizibank.af

www.azizibank.af 1515

عزیزي بانک
Azizi Bank